**ارزاقو امارتي شرکت؛**

ارزاقو امارتي شرکت په هېواد کې یوازینی دولتي شرکت دی، چې د خوراکي توکو په برابرولو کې فعالیت کوي. دا شرکت دولتي او نادولتي ادارو ته خوراکي توکي په خوندي، ډاډمن او ټاکلي وخت برابروي.

ارزاقو امارتي شرکت له ۸۵ کلونو څخه زیات تاریخي او خدماتي سابقه لري، چې په دې موده کې یې هېوادوالو ته بېلابېل خدمتونه، خوراکي توکي او سوداګریز امکانات وړاندې کړي دي.

یادشرکت د خپلو بنسټیزو فعالیتونو ترڅنګ سوداګریز خدمتونه هم وړاندې کوي، چې سوداګریز فعالیتونه یې نه یوازې د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره ارزښتناک ګام ګڼل کېږي؛ بلکې د هېواد ګڼ شمېر ځوانانو ته یې د کار زمینه برابره کړې ده.

په اوسني وخت کې شرکت د لوړ کیفیت خام او تازه خوراکي توکي د هېواد پوهنتونونو لیلیو، ولایتي روغتونونو، دیني مدرسو، دارالعلومونو، روزنتونونو او وړکتونونو ته په ټاکلي وخت برابر او لېږدوي.

دشرکت مسوولین هڅه کوي، چې خپل خدمات لا چټک او اغېزناک کړي، ترڅو د خلکو لپاره د خدمتونو لمن نوره هم پراخه شي.

